(ژباړه)

**د روژې په مبارکه میاشت کې باید خپل همت لا لوړ کړو!**

سږ کال د روژې مبارکه میاشت نسبت له نورو کلونو څخه په توپیر کې را ورسېدله. دغه توپیر د اسلامي امت د ژوند له ځورېدونو لکه ظلم، وژل، لوږه، د هغو د پانګو لوټل، نورې غمیزې او د پانګوالۍ په اور کې د ټول بشریت د سوځېدو له زاویې نه دی، بلکې د کورونا مصیبت راغی، څو د امت پر ژوند سختۍ او بدبختۍ نورې هم ور ډېرې شي. په ورته وخت کې دې ناوړه پدیدې د پانګوالۍ ایډیولوژۍ له فساد، انحطاط او له هغو فاحشو زیانونو پرده پورته کړه چې بشریت ته یې په عام ډول او مسلمانانو ته یې په خاص ډول رسولي دي.

بیاهم وایو چې په پانګوالۍ ایډیولوژۍ کې هېڅ فکري، سیاسي، اقتصادي، ټولنیزه، صحي، ښوونیزه او نظامي مثبته روحیه نشته او د دې تر څنګ ټېنګار کوو چې تولید شوي صفتونه باید د بېوسۍ، زیان او لارورکۍ له دیده تولیدوونکی واقعیت منعکس کړي.

له دغې مبارکې میاشتې څخه هر کلی کوو او ټول هیله‌مند او خوښ یو؛ ځکه موږ هغه امت یو چې نا هیلي نه پېژنو. کېدایشي د الله سبحانه وتعالی غوښتنه دا وي چې د کورونا ویروس په رامنځته کېدو سره نړیوال خپل ژوند ته په دقیقه، لویه او تر ټولو ښکاره هنداره کې وګوري.

په اوسني واقعیت او د پانګوالۍ د چټل نظام په پای ته رسېدو، همدارنګه د جدول په سر کې د اسلامي نظام په بیا راتګ سره یو ځل بیا زیر ورکوو او د دې لپاره چې بیا هغه ژوند ته وګرځو، باید له خپل ځان او مال تېر شو؛ هغه نظام چې مسلمانانو د څو پېړیو په ترڅ کې د هغه تر چتر لاندې ژوند کاوه او تر سیوري لاندې یې د اسلام له عزت او پت څخه برخمن وو. الله سبحانه و تعالی  فرمایي:

**﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾**

[توبه: ۱۱۱]

***ژباړه:*** *له شک پرته چې الله سبحانه وتعالی د مسلمانانو ځان او مال د جنت په بیه پېرې. هغوی باید د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جګړه وکړي، هڅه وکړي او ووژل شي. دا د الله سبحانه وتعالی ژمنه ده چې هغه یې په اسماني کتابونو، تورات، انجیل او قران کې په یو معتبر سرلیک ثبت کړې ده. همدارنګه له هغوی*

*سره يې ربښتينې ژمنه کړې ده. څوک تر الله سبحانه وتعالی ښه خپل عهد ته ښه ژمن دي؟ اوس دې د هغې معاملې له کبله پر تاسو زیر وی چې تاسو له الله سبحانه وتعالی سره کړې ده او دا لويه بريا ده.*

د مسلمانانو له نننۍ واقعيت څخه له بده مرغه ښکاري چې مفاهيم او ارزښتونه يې د هغه څه خلاف دي چې اسلام يې غواړي؛ ځکه دنيوي کارونو ته په سرعت منډې وهي، خو د اخرت لپاره سستي او تنبلي کوي. په داسې حال کې چې الله سبحانه و تعالی موږ ته د اخرت کارونو سپارښتنه کړې او داسې وايي: ﴿**فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ**﴾ ژباړه: د نيکۍ پر لور حرکت وکړئ. همدارنگه فرمايي: ﴿**وَسَارِعُوا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ**﴾ ژباړه: د خپل رب مغفرت او ښېښې ته مخه کړئ. د دنيوي کړنو لپاره يې هم لار ښوونې را ته کړې او داسې يې فرمايلي دي: ﴿**فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا**﴾ ژباړه: د هغې لارې په شاوخوا کې وگرځئ. يعنې ورو ورو ځئ، بيړه مه کوئ.

دلته دوه پيغامونه لرم: لومړی پيغام مسلمانانو ته دی، هغوی چې تر اوسه د دعوت له کاروان سره نه دي يو ځای شوي. الله سبحانه وتعالی فرمايلي دي:

﴿**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَا لَكُمْ إِذَا قِيلَ لَكُمُ انفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ اثَّاقَلْتُمْ إِلَى الْأَرْضِ أَرَضِيتُم بِالْحَيَاةِ الدُّنْيَا مِنَ الْآخِرَةِ فَمَا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ**﴾

[توبه: ۳۸]

*__ژباړه__: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی، ولې هغه وخت چې تاسو ته وويل شي چې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جهاد ته ولاړ شئ، پر ځمکه کېنئ او سستي کوئ؟ ايا د اخرت پر ځای د دنيا ژوند ته خوښ ياست؟ په داسې حال کې چې د اخرت په پرتله د ژوند متاع له يو واړه څيز پرته بل څه نه دي.*

فرضونه يوازې هغه نه دي چې تاسو يې په درسونو او جماعتونو کې زده کوئ، چې هغه يوازې په عباداتو راټول دي؛ بلکې په فرضونو کې داسې تاج شته چې ټول فرضونه د هغه په تاسيس سره ترسره کېږي او ټول فرضونه يوازې د همغه فرض يا تاج په تاسيس کېدو سره شوني دي.

له شک پرته هغه فرض د الله سبحانه وتعالی د حکم نافذول (د نبوت پر تگلاره د دويم راشده خلافت راتگ) دی. دغه فرض په کورونو او جماعتونو کې په کېناستلو او دعا کړلو نه راځي؛ بايد قرباني ورکړو. د هغه لپاره قرباني لازمه ده. شرعي قاعده ده «ما لا يتم الواجب إلا به فهو واجب» (هغه څه چې له هغه پرته واجب نه بشپړېږي، هغه هم واجب دي.) يعنې قرباني ورکول فرض ده.

نو اې مسلمانانو! اصحاب کرام ـرضی الله عنهم اجمعين چې د اسلام لپاره يې سختۍ گاللې او په دغه لار کې يې کلک عزم او کوښښ کړی، د خپل ځان لپاره يې غوره نمونه او لارښوود وگڼئ، څو خپل ځان د

حساب په ورځ له عذابه خلاص کړئ.  ابو درداء رضی الله عنه فرمايلي: د هغه څه نه چې ډېره وېره لرم، دا دي چې د قيامت په ورځ د الله سبحانه وتعالی په حضور کې و درېږم او راته وويل شي چې علم دې زده کړ، نو په هغه دې څه عمل کړی دی؟

**دويم پيغام:** دويم پيغام خپلو دعوت ګرو وړنو او خويندو ته لرم او وايم: ځراغ لمبې ته ضرورت لري چې رڼا شي. موږ د امت د رهبرۍ مسووليت پر غاړه اخيستی او د امت د بچيانو لاس مو نيولی؛ چې د پانګوالی د نظام له چټليو څخه وژغورل شي او په دغه لاره کې د ځراغ بېلګه لرو. موږ ته غوره دا ده چې د ځراغ رڼا ډېره او لوړه وي او داسې رڼا خوره کړي چې ټول ځايونه پرې روښانه شي. د دغه کار ترسره کولو لپاره بيا ټنبلي او سستي ونه شي.

هغه ستر مسووليت چې زموږ پر غاړه دی، پېټی مو يې درونډ کړی او حرص مو هم ډېر شوی دی. له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې موږ د هغو عالمانو په ډله کې شامل کړي چې عمل او اخلاص لري، څو د دوزخ له اور څخه په امن کې پاتې شو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

**«العالِمُونَ في النارِ إلّا العَامِلينَ، والعَامِلونَ في النارِ إلّا المُخْلصينَ، والمُخْلصونَ في بَلاءٍ عَظيمٍ»**

***ژباړه:*** *هغه عالمان د جهنم په اور کې دي چې پر علم عمل نه کوي، همدارنګه هغه عمل کوونکي چې اخلاص نه لري، هغوی هم په جهنم کې دي او څوک چې مخلصين دي، هغوی له لويې ازموينې او ابتلاء سره مخ دي.*

اوس يې وخت دی چې يو ځل بيا په خپله اراده او عزم غور وکړو او شپه او ورځ کوښښ وکړو، څو خپلې لويې موخې ته ورسېږو او د هغه لپاره د دعوت له کاروان سره يو ځای شو.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره چې خپلې مېرمنې خديجې رضی الله عنها ته يې کړې ده، تل په ياد ولرو.

«لا راحة بعد اليوم» يعني له نن وروسته راحتي او اسانتيا نشته. دغه وخت د زړورتيا او عمل دی. د سستۍ پرېښودو وخت دی! خپل کار ته بايد دوام ورکړو او په حق منګولې ولګوو. بايد خپلې نفسي غوښتنې تر پښو لاندې کړو او اجاړه ور نه کړو چې مخه مو ونيسي. که ودرېږو، دا کړنه سرټيټي او انحراف رامنځته کوي.

څه کم اووه لسيزې کېږي چې موږ اوږد مزل پيل کړی. د الله سبحانه وتعالی په اذن نور به ژر خپل دغه پيل شوي مزل ته ورسېږو. موږ په دغه لوبه کې يو او سترګې مو د هغه وروستۍ پايلې ته په تمه دي.

کله چې لوبغاړی د لوبې پای ته نېږدې کېږي، لا چټک او تېز ګامونه اخلي. تاسو د الله سبحانه وتعالی په لار کې د اعمالو ډېروالي، د قدمونو چټک والي او د الله سبحانه وتعالی د مغفرت لپاره سبقت ته رابولم. د الله سبحانه وتعالی ژمنه راتلونکې او پوره کېدونکې ده. موږ باید دغه فرصت له لاسه ورنه کړو او یا دغه ځای بل چاته پرې نه ږدو، که نه پېښمانه به شو. الله سبحانه وتعالی ته پناه وړو. ایا ګټونکی له هغه چا سره یوځای کېږي، چې د قطار په وروستیو کې وي؟!

د دې لپاره چې خپلو کړنو ته وګورو، باید د لومړي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه خطبه رایاده کړو: «اې د الله سبحانه وتعالی بنده ګانو پوه شئ! تاسو نن یا سبا مړه کېږئ او د مړینې له نېټې خبر نه یاست. که مو وخت پر داسې کړنو او کارونو تېر کړ چې د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره پر کار کولو بوخت وئ، نو دا غوره ده او دا کار د الله سبحانه وتعالی په مرستې سره شونی دی. نو په دغو وختونو او کارونو کې وړاندې له دې چې وخت تېر شي او خدای مه کړه ناوړه کارونو ته وروګرځئ، د ښو کارونو په ترسره کولو کې سبقت وکړئ؛ ځکه داسې قومونه وو چې وختونه یې په بېځایه کارونو تېر کړل او خپل نفسونه یې هېر کړي وو.

زه تاسو د هغوی په څېر له کارونو راګرځوم، نو ژر کوئ او ژر کوئ....! خپل ځانونه وژغورئ، ځکه تاسو داسې یو څوک څاري چې تاسو د ښوو کارونو ترسره کوونکي نه غواړي او د هغه کار ډېر چټک دی.

**لیکونکې راضیه عبدالله**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر راډیو ته**

**ژباړن: الهام (پردېس)**